ښاغلی Diijon DaCosta، مشر، *د بورډ رئیس*
آغلې Deirdre P. Pierce، *مرستیاله رییسه*
Anna Hill میرمن
Whitney McGinniss میرمن
Allyson Gevertz آغلې
Vickie B. Turner میرمن
Dr. Joyce Morley

DeKalb County School District
Dr. Devon Q. Horton, *آمر*

**د سمدستي خپرولو لپاره**

14 نومبر 2024

**اړيکه:**
Donald Porter, *Ed.D.* 678-481-4110
Carla Parker 404-734-1717

## کمیشنرې Spears د DeKalb ولسوالۍ زده کوونکو لپاره د ساينس ساحوي سفرونو د ملاتړ په خاطر د 50,000 ډالرو مرسته وکړه

(STONE MOUNTAIN, GA)- د DeKalb کاونټي کمیشنرېMichelle Long Spears د DeKalb ښوونځيو د تعليمي بنسټ شرکت ته د 50,000 ډالرو په ورکولو سره د ځايي زده کوونکو په راتلونکي کې د پام وړ پانګه اچونه وکړه. دا مهمه ډالۍ به د 2مې ولسوالۍ په ښوونځيو کې د ساينس ساحوي سفرونو مالي ملاتړ وکړي ترڅو هغه زده کوونکي چې ښايي د دې ډول تجربو د لګښت توان ونه لري، وکولی شي د ټولګي څخه بهر په بډايه او عملي زده کړو کې برخه واخلي.

کمیشنرې Michelle Long Spears وویل چې "کله زده کوونکي له ټولګي څخه بهر نړۍ ته لاړ شي نو هغه وخت د ساينس حيرانونکي عجايب په حقيقي بڼه لا زيات روښانه کيږي". "د دې ساحوي سفرونو د ملاتړ کولو له لارې د مصارفو پوره کولو سربیره موږ د فکر او امکاناتو دروازې هم پرانیزو. "هر ماشوم(ه) د دې فرصت د ترلاسه کولو حق لري چې خپل مالي وضعيت ته د کتلو څخه پرته د خپلې شاوخوا نړۍ سپړنه وکړي، کشف وکړي او له هغې څخه الهام واخلي،."

د 32 تصديق شويو ښوونځيو او برنامو سره د STE(A)M د تعليمي مشر په توګه د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالي *(DCSD)* په منظمه توګه د لوړ معيار علمي ځايونو او تاسيساتو سره له خپل نږدې والي څخه ګټه پورته کوي. د بېلګې په توګه، ابتدايي او منځني ښوونځي د Georgia ساحل ته کلني تعليمي سفرونه تنظيموي، چيرې چې زده کوونکي د Skidaway ټاپو، Tybee ټاپو او د Jekyll ټاپو په څېر ځايونو کې د سمندري ساينس او ساحلي چاپيرياليپوهنې سپړنه کوي. دا ژورې تجربې د ټولګي زده کړې پیاوړې کوي او ډيرى وختونه د ساينس لپاره د تلپاتې ليوالتيا لامل کيږي.

سره له دې، دغه سفرونه د ټيټ عايد لرونکو کورنيو لپاره يو لوی خنډ راولاړوي، چې د ترانسپورت، استوګنې او خوړو په ګډون د هر ماشوم(ې) په سر په اوسط ډول 500 ډالره لګښت لري، په ځانګړې توګه د هغو کسانو لپاره چې د COVID-19 د پراخې وبا له امله په نا انډوله توګه اغيزمن شوي دي.

د دې بنسټ اجرايوي رييس، Thurman Green III، وویل چې "د DeKalb ښوونځيو د تعليمي بنسټ شرکت د کميشنرې Michelle Long Spears سره د دې شراکت په اړه د ډيرى خوښۍ احساس کوي." "دا مرسته يوازې مالي ملاتړ نه دی. دا د ډيرى زده کوونکو لپاره يوه مهمه مرستندویه لاره ده چې ښايي د نشتوالي په صورت کې يې زده کوونکي د استثنايي زده کړو له تجربو څخه بې برخې پاتې شي. د مالي خنډونو له منځه وړلو له لارې موږ زده کوونکو ته د هغوی د بشپړ استعداد ترلاسه کولو توان ورکوو او د ساينس سره یې ژوره مينه رامنځته کوو چې کولی شي په مثبت ډول د دوی راتلونکي داسې بدل کړي چې موږ یې يوازې تصور کولی شو."

د DCSD د دې مالي مرستې لپاره وړ ښوونځي له لاندې څخه عبارت دي:

- Ashford Park ابتدايي ښوونځی
- Briar Vista ابتدايي ښوونځی
- Coralwood ښوونځی
- د Dunwoody ابتدايي ښوونځي پورتنی کيمپس/Cary Reynolds ابتدايي ښوونځی
- Fernbank ابتدايي ښوونځی
- د Globe اکاډمی ښکتنی کيمپس
- د نړيوالي ټولني ښوونځی
- Laurel Ridge ابتدايي ښوونځی
- John Robert Lewis ابتدايي ښوونځی

- Montclair ابتدايي ښوونځی
- Montgomery ابتدايي ښوونځی
- Oak Grove ابتدايي ښوونځی
- Sagamore Hills ابتدايي ښوونځی
- Woodward ابتدايي ښوونځی
- Druid Hills منځنی ښوونځی
- د Globe اکاډمی پورتنی کیمپس
- Kittredge Magnet ښوونځی
- Path اکاډمي

دا مرسته یو ځلي بسپنه ده چې پیسې به یې د 2026 کال سپتمبر پورې تخصیص شي.

"دا لومړنی پانګونه د قوي ټولنیزو، سوداګرۍ او ښوونیزه شراکتونو لپاره لاره هواروي. د DeKalb ښوونځیو د تعلیمي بنسټ شرکت د بورډ رییسې Patricia Smith وویل چې "د کمیشنرې Michelle Long Spears لخوا د 50,000 ډالرو ډالۍ د هغه باور او اعتماد ښکارندويي کوي چې کمیشنرې Long Spears په آند یاد بنسټ په فعاله توګه د DeKalb کاونټي د ټولو ښوونځیو زده کوونکو لپاره د علمي پایلو ښه کولو او مثبتي پیژندګلوۍ په لاره کې کار کوي."

د DeKalb ښوونځیو د تعلیمي بنسټ شرکت یو 501(c)(3) تنظیم دی چې په بیلابیلو برخو کې پوهه لرونکو زده کوونکو د روزلو او د تدریسي غوره والي لوړولو لپاره اغیزمن شراکتونه رامنځته کوي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره یا په بنسټ کې د ونډې لپاره مهرباني وکړئ **دلته** له ورکړل شوې ویب پاڼې څخه لیدنه وکړئ یا د DeKalb ښوونځیو د تعلیمي بنسټ شرکت له اجرایوي رییس ښاغلي Thurman Green III سره د thurman_green@dekalbschoolsga.org ایمېل له لارې یا د تلیفون له لارې په 310-3562 (404) شمیره اړیکه ونیسئ.

XXX